مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۱۲/۰۹

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو اوه اویایمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لوډویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

* **قورغان**: ۵۵ – ۳۶، ۴ – ۶۵ (ن): دا د فاریاب د ولایت په شمال لویدیځ کې یو کلی او یوه علاقه داري ده. دا علاقه داري ۷۸۷ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئـې د وګړو شمیر ئـې د ۶۸۸۹ تر ۸۷۲۵ تنو پورې اټکل کړی دی. د دې علاقه دارۍ کرښې: لویدیځ او شمال: له شوروي اتحاد سره سرحد لري، په ختیځ کې د خانِ چارباغ او اندخوی او په سویل کې د کرم قل له ولسوالیو سره کرښه لري. د قورغان علاقه داري ۱۲ کلي لري چې ۴ کلي ئـې له ۵۰۰ ډیر استوګن وګړي لري. د دغو کلیو نومونه لنډ مهالي مجلي په لاندې ډول ثبت کړي دي:

باغ و بوستان	کمانګر	میر آبادِ توقوز درک	قورغان
قشقه تن	یکه توت	تکه تپه	نمازګاهٔ کمانګر
چارباغ کمانګر	لافي	کهنه قورغان	

قورغان: ۱۱ – ۳۵، ۴۵ – ۶۷ (ن): دا په سیغان درې کې یوه لویه کلا او یو کلی دی چې له سرزیک څخه بلافاصله کښته واقع او د تاجیکانو ۴۵ کورنۍ په کې ژوند کوي. همدلته مزارشریف ته عمومي سړک د سیغانو د سیند کینې غاړې ته تاوییږي. (میتلند)
کرتلي: ۲۵ – ۳۷، ۱ – ۶۶: دا د اکسوس د سیند پر کینې غاړې د خواجه سالار له سرای کښته او د قرقین له بازار پورته یو ځنګل دی.
کـرو: – ۳۵، – ۶۷: دا یوه تنګه، اوږده دره ده چې له چیچل کښته له شمال ختیځ لوري د صوف پر درې ورکوزیږي. (اې. بي. سي.)
کشکک: ۴۸ – ۳۶، ۳۹ – ۶۶: دا یو کلی دی چې د لارې غاړې ته یو زیارت هم لري او د بلخ د لویدیځ په ۲۰ مایلۍ کې د یوهٔ لوی نهر په اوږدو کې واقع دی. دا زیارت په یوې لوړې څرګندې غونډۍ د کلي په سویل ختیځ ګوټ کې واقع دی. دلته د وزبیکانو ۱۵۰ کورنۍ ژوند کوي. (میتلند) *اوسنۍ نقشې دا نوم کشکه په ډول ښیي.*
کشکک: ۴۲ – ۳۶، ۵۴ – ۶۶ (ن): دا د فیض آباد د نهر پر غاړه یو کلی دی چې د بلخ د سویل لویدیځ په تقریباً ۸ مایلۍ کې واقع دی او د وزبیکانو ۱۰۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (میتلند)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

* **کوش قره: قوش قره**: ۹ – ۳۶، ۱ – ۶۶ (ن): دا د آق دریا پر غاړه د بوغاوي سفلی د سویل لویدیځ په ۱ مایلی کې یو کلی دی.
* **کـُشلـُش:** وګورئ: د قیصار سیند: ۴ – ۳۷، ۱۳ – ۶۶ (ج): دا د شیخ رازي د شمال ختیځ په ۷ مایلی کې یو کلی دی.
کـُشتـَک: دا یو تنګی دی چې د درزآب له درې سره له سویل لوري له درزآب ۳۱ مایله کښته یو ځای کیږي. (ای. بي. سي.)
کـُشتیرمان: کـُش آسیا: ۱۸ – ۳۶، ۰ – ۶۸ : دا له ایبک کښته د تاشقرغان د سیند پر کینې غاړې یو کلی دی چې د تاجیکانو ۴۰ کورونه په کې ودان دي. (میتلند)
کوتـُش: ۷ – ۳۶، ۴۷ – ۶۶ (ج): دا د هولکر کوه پر سر یو کوتل دی چې له آق کپروک څخه تر بوینقرې پورې لاره ورڅخه تیریږي. دا لاره د سرپل له عمومي لارې څخه له آق کپروک ۴ مایله لیرې وځي او شمال لور ته قزل کن ته ځي. (میتلند)
لبک: ۴۶ – ۳۶، ۳۴ – ۶۶ (ن): دا د فیض آباد نهر ته نیږدې یا د همدې نهر پر غاړې یو کلی دی او د بلخ د لویدیځ په تقریباً ۱۵ مایلی کې موقعیت لري او د افغانانو (پښتنو – ژ) ۱۰۰ کورنۍ په کې میشتې دي. (ای. بي. سي.)
لب آب: د «سیند د غاړې» په معنی دا نوم ده هغه نوم دی چې د اکسوس د سیند دغاړې د ولسوالیو ارسري او قرقین، د بخارا رعایاو او همدا شان افغانانو (پښتنو- ژ) ته اطلاق کیږي. د لب آب وریښم ډیر لوړ شهرت لري او د بخارا تر ټولو ښـهٔ وریښم دي چې د لبِ آب له نخ څخه تولیدیږي. (ای. بي. سي.)
لغکي: ۱۸ – ۳۵، ۳۷ – ۶۷ (ن): دا په کمرد (کـُهمَرد- ژ) کې یو کلی دی چې د تاجیکانو ۳۰ کورونه په کې ودان دي. (میتلند)
* **لغان**: ۴۸ – ۳۵، ۴۴ – ۶۶ (ن): دا د «قلعـهٔ ایران[1]» په ختیځ کې او د تونج په سویل لویدیځ کې یو کلی دی.
لغمان: ۵۹ – ۳۵، ۶ – ۶۶ (ن): دا د استرآب د درې یو کلی دی چې د سرپل له (له سویل ختیځه) ۲۲ مایله پورته واقع او د اچه میلي وزبیکانو ۴۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (ای.بي.سي.) *د دې کلي نوم د لغوان په ډول هم لیکل سوی دی.*
* **لیلي ساى**: ۲۶ – ۳۶، ۱۱ – ۶۵ (ن): دا د اندخوی شمال لوري ته ځغلیدونکی یو تنګی دی چې تقریباً ۲۵ مایله ختیځ ته او له شیرین تګاو سره موازي دی.
لکن: ۵۲ – ۳۵، ۲۵ – ۶۵: دا یو تګاو دی چې په کاولیان کې د قرچي په درې کې د بلچراغ له کلي ۲/۱ ۱۰ مایله پورته ننوځي. دا تګاو د هغو غرونو د باندنۍ لړۍ شاته پر مخ ځي چې په سویل کې تر درې راتاو دي او یوه بده لاره چې حتی د یابوګانو لپاره سخته ده د دې تګاو له سره د فاوغان تنګي ته تللې ده. (میتلند)
* **للندر**: ۲۳ – ۳۵، ۴۲ – ۶۶ (ن): دا په همدې نامـهٔ د یوهٔ سیند پر غاړې یو کلی دی چې د بلخ آب په سویل ختیځ او د دو شاخ په سویل لویدیځ کې موقعیت لري.
للمي: – ۳۶ ،– ۶۶ : دا د آق کپروک په ولسوالی کې یو کلی دی چې د وزبیکانو ۸۰ کورونه په کې ودان دي. (میتلند)
لم لم: لم لام: ۸ – ۳۶، ۴ – ۶۸: دا د تاشقرغان د سیند پر سر له ایبکو ۹ مایله پورته یو کنډوکپر لرګین پل دی. دا پل د هر ډول بار وړونکو څاریو د تیریدلو لپاره مناسب دی خو د توپخانې د ځواک د تیریدلو لپاره باید له سره جوړ سي، نه یوازې دا بلکه د دې لپاره لاره باید د ۵۰۰ یاردو په اوږدو تر هغـهٔ باید ورغاول سي چې د ستوغې ډډې تر ښوییدلي ځای پورې تاویږي. سیند په یوهٔ تنګ ژور کانال کې بهیږي او یو ناهمواره ډبرین بستر لري. له دې سیند څخه له پله پرته پورې غاړه اوښتل ګران دي. ویل سوي چې په دواړو خواوو کې د ګرنګو پر سر یوه دښته ده او ځمکه ئـې مخ خلاصې ده او له ستونزې پرته د تیریدلو وړ ده. د دښتې ښۍ خوا د (شوره کال) په نامـهٔ یادیږي؛ کین لور ته ئـې د «کوهٔ بَست» لوړه سطحه ده. (میتلند)
لنګر: ۵۸ – ۳۵، ۳۳ – ۶۴ (ن): دا له ناموسا سره یو ځای د میمنې یوه علاقه داري جوړوي.
لنګر: ۵۴ – ۳۵ ، ۱۴ – ۶۶ (ن): دا د سنګچارک په ولسوالی کې یو کلی دی چې په همدې نامـهٔ تنګي کې واقع او د (قبچان کنکانو[2]) ۴۰ کورونه په کې ودان دي. دا تنګی له سویل لوري راځي او د سَوزمه قلعه له تګاو سره د کـُرَم خواجه دره تر نامـهٔ لاندې د سَوزمه قلعه د کلي د سویل په تقریباً ۱۳ مایلی کې د لنګر له کلي ۳ مایله کښته یوهٔ ټکي کې د سَوزمه قلعه له تګاو سره یو ځای کیږي.

[1] - Kala -i -Iran
[2] - Kibchan Kanaks

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له لنګر ۲ مایله کښته «تقچي» ده چې ۲۰ کورونه لري؛ او یو مایل پورته ئـې «آق اَو» دی چې د ایماق تاجیکانو ۱۰ کورونه لری. دلته د میوو پریمانه وني سته او ډیره کرهنه په کې سوې ده. (امیر خان، شهزاده تیموس) *اوسنی نقشې د لنګر شاه عبدالله نوم ښیي.*

لنګر: ۱ – ۳۶، ۲۱ – ۶۶ (ج): دا د سنګچارک په ولسوالۍ کې د ۱۰ کورونو یو کوچنی کلی دی چې د توکزر په لویدیځ کې په خواجه تګاو کې واقع دی. (میتلند)

لنګر: ـ ۳۶ ،ـ ۶۸ : دا د کابل – مزار شریف د لویې لارې په اوږدو کې یو کلی دی او لاره د تاشقرغان د سیند له پاسه له پلـۀ څخه په تیریدلو بلافاصله د دې کلي له څنګه تیریږي، دا کلی له ایبکو ۲۰ مایله پورته واقع دی. دا پل د خرم او سر باغ د علاقه دریو تر منځ کرښه ده. لنګر کې د تاجیکانو ۸۰ کورونه دي.(میتلند) *دا کوچنی کلی د سَوزمه کلا د سویل ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلی کې واقع دی.*

لنګر خانه: ۴۴ – ۳۶، ۱ – ۶۷ (ن): دا د مزارشریف د شمال لویدیځ په ۶ مایلی کې یو کلی او یوه زړه کلا ده چې د تخته پُل د نهر پر غاړه واقع او د «وردک افغانانو[3] – پښتنو – ژ» ۵۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. د لنګرخانه کلان په نامـۀ بل کلی په ۴۶ – ۳۶، ۲ – ۶۷ (ن) کې موقعیت لري.

لور لاش: لو لاش: ۲۲ – ۳۵، ۴۶ – ۶۴ (الف): دا په دې نامـۀ یوۀ تګاو کې یو قشلاق دی چې د میمنې د سویل په ۴۵ مایلی کې واقع دی. دا تګاو چې همدلته په یوې ډبرینې تنګې اوږدې درې بدلیږي د مک د تګاو د کښتنی برخې پر لور مخ پر سویل - سویل ختیځ ځغلي، د مک د تګاو د تللو بهیر مرغاب ته مخ په سویل لویدیځ دی. په لور لاش کې د کمپ لپاره پریمانه ځای سته؛ دلته ډیره کرهنه سوې ده؛ اوبـۀ پریمانه لري؛ لرګي په شمال کې څو مایله وړاندې له غرونو تر لاسه کیدای سي. (هیرا سینګهـ) *هغه کلی چې اوس د کوهستان په نامـۀ یادیږي د فاریاب په ولایت کې په همدې نامـۀ د علاقه داری اداري مرکز دی. د نورو معلوماتو لپاره وګورئ: کوهستان*

لرک: ۱ – ۳۶، ۲۸ – ۶۶ (ن): دا د سنګچارک په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې د اله غان په درې کې واقع ده او د خواجګانو ۵۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (میتلند) *اوسنی نقشې د لرکِ ایشان نوم د سَوزمه قلعې د ختیځ په تقریباً ۱۶ مایلی کې ښیي.*

لرغان: ۱۹ – ۳۶، ۵۹ – ۶۷ (الف) دا یو شمیر خوارۀ وارۀ کوچنې کلي دي چې د تاشقرغان د سیند پر ښی غاړه له ایبکو تقریباً ۶ مایله *کښته او د حضرت سلطان د سویل په تقریباً ۱۲ مایلی کې* واقع دي. دلته د کته علي وزبیکانو ۳۰ کورنۍ ژوند کوي. (میتلند)

لرګرد: ۲۹ – ۳۵، ۴۰ – ۶۶ (ن): دا د رودِ بندِ امیر پر غاړه له آق کپروک ۸۳ مایله پورته د هزاره ګانو یو کلی دی. ویل سوي چې سون توکي او وابـۀ په کې پریمانه دي. (اې.بي. سي.) *اوسنی نقشې د لرکرد نوم ښیي. دا کلی د بلخ آب په ختیځ کې دی.*

لارِ میمون: ـ ۳۶ ، ـ ۶۸: دا هغه لاره ده چې د میرزا هد بل د کوتل له لمنې څخه لیدل کیدای سي چې د «کوۀ چونغر» پر شمال لویدیځې ستوغې باندې راکوزیږي. ویل سوي چې دا لاره د چونغر ایلاق ته چې هلته ډیرې ښې چینې او ښې پوونديِ لري ځي. (اې. بي. سي.)

لارمُش: ۲۰ – ۳۵، ۴۵ – ۶۷ (ن): دا کهمرد په درې کې دوه کوچني کلي دي چې له سرپل ۷ مایله کښته واقع او د تاجیکانو ۱۵ کورونه لري. (میتلند)

لته بند: ۶ – ۳۶، ۸ – ۶۶ (ن): لوړوالی: ۳۴۱۵ فیټه. دا د سَوزمه قلعه او سرپل تر منځ یو کوتل دی چې له دولت یار څخه تر کلف پورې سړک ورڅخه تیریږي. له سَوزمه قلعه څخه په دریم مایل کې تر دې درې ګردچاپیره غرونه راتاو دي چې له منځه ئـې د «شیراوه» د تنګې اوږدې درې له لارې یو سیند بهیږي. د درې له منځه تللې لاره ډیره بده ده؛ له دې کبله ده چې سړک کیڼ لور ته تاوییږي او د لته بند پر کوتل ورځیږي. دا لاره په ستوغوالي کې چې ډیره مارپیچه هم ده د نیم مایل په واټن په وښو او بوټو پوښلې ده او ۱ په ۵ کې ستوغوالی لري پرته له دې نوره ښه لاره ده. ورپسې کوتل ته دختلو ډیره نرمه او آسانه لاره کیږي چې په ۴/۱ ۴ مایل کې ورته رسیږئ .

د کښته کیدلو لاره اوږده خو آسانه ده؛ لاره په لومړیو کې د تنګو درو له منځه ده، ورپسې نسبتاً مخ خلاصې سر ځوړې راځي خو دوه نرې خندقونه د لارې په اوږدو کې په یوې تنګې درې کې سته چې په ۲/۱ ۷ مایل کې مخې ته راځي. په ۲/۱ ۸ مایل کې د شیروه تنګه دره د ښې لاس له پلوه بندیږي. دلته دا لاره ورسره موازي پر مخ ځي؛ دا لاره ډبرینه او په شدت سره له لوړوالي لویږي او د لارې په دواړو غاړو کې مخ خلاصې لوړې سطحې واقع دي. په ۴/۱ ۱۰مایل کې لاره له یوې نالې څخه تیریږي، دې نالې ته کښته کیدل د څو یاردو لپاره په یوې تنګې لارې کې کیږي.

[3] - Wardak Afghans

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کیدای سي دا ځای د کوتل بیخ وګڼو. سقوط په ۶ مایلو کې ۱۰۲۰ فیټه. نوره لاره تر پایه ښه ده. یوازې ځینو ځایونو کې مارپیچه کیږي چې په آسانۍ ورځخه تیریدلای سئ او خاوره ئـې تر پایه نرمه ده چې د لارې په جوړولو کې کومه ستونزه نـۀ جوړوي؛ دا لاره د ستوغوالي له اړخه د غرونو په هرې ستوغې یا شیوه ډډې کې په هرې اندازې چې وي جوړیدای سي. له نالې څخه له تیریدلو وروسته بیا هم د کښته کیدلو یوه لاره ده چې د مایل د ربعې په اندازه اوږده ده، دا هغه مهال ده چې لاره عمومي درې باندې په ۲/۱ ۱۰ مایل کې له منځغرې کښته ورننوځي. (میتلند)
لته بند: وګورئ: ات چپر
لتي: ۳ ــ ۳۶، ۶۵ ــ ۵۷ (ن): دا د سرپل په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې د تخت میرزا په لویدیځې لمن کې واقع او د تاجیکانو ۸۰ کورونه په کې ودان دي. (امیر خان، شهزاه تیموس)
لاله: ۲۷ ــ ۳۵، ۴۸ ــ ۶۶ : دا یوه تنګه اوږده دره ده چې د رودِ بندِ امیر پر شمال لویدیځ راکوزیږي او د بلخ آب په ولسوالۍ کې سرپل ته نیږدې ډوبیږي. لاره په لرګرد کې له سرپل ۱۰ مایله پورته د سیند په اوږدو کې په دوه وو برخو ویشل کیږي. یوه څانګه د سیند د بهیر په اوږدو کې د چپچل د تنګي له لارې ځي چې د باروړونکو څارویو لپاره عملي لاره نـۀ ده او که لاړ هم سي ډیره سختي به ووینې ځکه ډبرې ئـې ډیرې ټینګې دي. بله څانګه چې لویه لاره ښکاري د یوۀ تنګي له لارې ختیځ خوا ته د نار کوه کوتل ته ځي چې د ختیځ لور د غرونو د یوۀ مهمیز له لارې تللې ده. ویل سوي چې دې خوا کې لاره له سره تر پایه ښـه ده. کښته کیدل له سرځوړې لارې کیږي چې ښایي دوه مایله اوږده وي. دا لاره په دو شاخ کې د لولا تنګي ته تللې ده او د همدې د دې تنګي تر خولې پورې تللې چې وروسته یو ځل بیا په اساسي درې ورننوځي.
دې تنګي کې چې له ۳۰۰ تر ۴۰۰ یاردو ارت دی ښه کرهنه سوې ده. د دې تنګي اوږدوالی له دوشاخ څخه تر خولې پورې ئـې تقریباً ۷ مایله دی. (ای. بي. سي.) همدا شان په دې نامـۀ بل کلی د صوف په درې کې د «یزه لان بخش[4]» [کیدای سي دا یزدان بخش وي ــ ژ] د لویدیځ په ۱۰ مایلۍ کې په ۳۸ ــ ۳۵، ۸ ــ ۶۷ (ج) کې واقع دی.

نور بیا
لارینج: لورینج: لرینج: ۲۵ ـ ۳۵، ۳۴ ــ ۶۷: دا یو کوتل دی چې

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

[4] - Yazalan Bakhsh

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ